ښاغلی Diijon DaCosta, Sr.، د بورډ رییس
آغلې Deirdre P. Pierce، مرستیاله رییسه
Anna Hill مېرمن
Whitney McGinniss مېرمن
Allyson Gevertz آغلې
Vickie B. Turner مېرمن
Dr. Joyce Morley

DeKalb County School District

Dr. Devon Q. Horton, رییس

**د سمدستي خپرولو لپاره**

8 اکتوبر 2024

**اړیکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

# د DCSD د فراغت کچه د تیر په پرتله تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلې

*د زده کوونکو له لسو څخه اته فرعي ګروپونه موثرې لاسته راوړنې ښيي.*

د (STONE MOUNTAIN, GA)- د Dekalb کاونټي ښوونځي ولسوالی (*DCSD*)د فراغت کچه په 2024 کې د تیر په پرتله تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلې. د ځلور کلن فراغت کچه اوس 79.1 سلنه ده، د 2023 په پرتله 3.3 سلنه او د 2011 په پرتله خورا لوی 20.5 سلنه لوړه ده، د فدرالي قانون لخوا د لومړي کال د زده کوونکو د سلنې ټاکلو لپاره معیاري طریقې ته اړتیا وه.

د *ټولو زده کوونکو* د کټګورۍ د ښه والي سربیره، د نهو (9) ولسوالیو زده کوونکو فرعي ګروپونو کچو څخه اوه ((7 د تیر ښوونیز کال په پرتله (77.8 سلنه) زیاتوالی موندلی. دوی په تیرو لسو کلونو کې د دې ابادۍ لپاره د فراغت د ترټولو لوړې کچې استازیتوب وکړ.

| | د فرعي ګروپ | د 2023 ټولګي په مقابل کې د 2024 ټولګي | د ښه والي سلنه |
|---|---|---|---|
| • | ټول زده کوونکي | د 3.3 له مخې | (له 75.8 څخه تر 79.1) زیات شوي |
| • | د اسیا/ارام سمندر ټاپو اوسیدونکي | د 4.8 له مخې | (له 80.6 څخه تر 85.4) زیات شوي |
| • | تور پوستي | د 2.6 له مخې | (له 77.0 څخه تر 79.6) زیات شوي |
| • | هسپانوي | د 6.5 له مخې | (له 60.7 څخه تر 67.2) زیات شوي |
| • | سپین پوسته | د 2.7 له مخې | (91.6 څخه تر 94.3) زیات شوي |
| • | له اقتصادي پلوه زیانمن شوي | د 3.7 له مخې | (له 73.6 څخه تر 77.3) زیات شوي |
| • | د انګلیسي زده کوونکي | د 5.8 له مخې | (له 54.9 څخه تر 60.7) زیات شوي |
| • | ځانګړي اړتیاوي لرونکي زده کوونکي* | د 4.7 له مخې | (له 62.6 څخه تر 67.3) زیات شوي |

**د 2024 ښوونیز کال د ځانګړو اړتیاو لرونکو زده کوونکو فرعي ګروپ لپاره 7مه پړله پسې کلنۍ لاسته راوړنه په نښه کوي.*

رییس ډاکټر Devon Q. Horton وویل "د فراغت دا پرمختګونه یواځې زموږ د زده کوونکو، ښوونکو، کورنیو، د دفتر ملاتړي کارکوونکي او مدیرانو د هوډ او تمرکز له امله ممکن دي کوم چې دې مهم پړاو ته رسیدو لپاره اړین کار ترسره کولو ته ژمن دي." "د فراغت د دې موثره لاسته راوړنو په څېر زموږ د پوهنې بورډ هم د زده کوونکو لاسته راوړنو او پایلو د لوړولو لپاره د ستراتیژیکو سرچینو پانګونې لپاره د کریډیټ مستحق دی."

له پنځه ویشت (25) څخه اتلس (18) عالي ښوونځیو خپله د څلور کلن فراغت کچه (72سلنه) لوړه کړې. د ښوونځیو خورا د پام وړ لاسته راوړنې په لاندې دریو (3) ښوونځیو کې رامنځته شوې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| • | د McNair عالي ښوونځی | 21.7٪ زیاتوالی | (له 55.2 څخه تر 76.9) |
| • | د DeKalb Alternative ښوونځی | 13.5٪ زیات شوی | (له 15.9 څخه تر 29.4) |
| • | د Columbia ښوونځی | 10.7٪ زیات شوی | (له 72.0 څخه تر 82.7) |

-نور-

PASHTO

پنځه (5) ښوونځیو د تیر ښوونیز کال په پرتله 6 سلنه یا لوړې لاسته راوړنې ښودلې: Clarkston عالي ښوونځی +(8.1)، د ختیځ DeKalb ځانګړې زده کړې مرکز (+7.9، Stephenson عالي ښوونځی +(7.1)، Lakeside عالي ښوونځی +(6.6)، او Cross Keys عالي ښوونځی (+6.0).

د فراغت په کچه کې اضافي زیاتوالي په لاندې لسو (10) عالي ښوونځیو کې لیدل شوي: د Dunwoody عالي ښوونځی +(4.8)، د Cedar Grove عالي ښوونځی +(4.4)، د Elizabeth Andrews عالي ښوونځی +(3.7)، Chamblee عالي ښوونځی +(3.4)، د Tapestry عامه چارټر +(3.0)، د Druid Hills عالي ښوونځی (+2.7) د Redan عالي ښوونځی +(2.0)، د Towers عالي ښوونځی +(2.0)، د Stone Mountain عالي ښوونځی +(1.6)، د Arabia Mountain عالي ښوونځی +(0.3)،

لاندې عالي ښوونځي د فراغت کچه له 95 سلنه څخه پورته ساتلو ته دوام ورکوي:

- د DeKalb Early College اکاډمي* 100 سلنه پرله پسې دریم کال 100 سلنه!
- د Arabia Mountain عالي ښوونځی* 98.9 سلنه
- د Dekalb د هنرونو ښوونځی 97.2 سلنه
- د Tapestry عامه چارټر ښوونځی* 96.8 سلنه

*د 1 سرلیک ښوونځی*

ډاکټر Horton وویل: "زموږ ځېل ښوونځي په زده کړه کې د لوړې کچې ښکیلتیا او د زده کوونکو پر ګټو متمرکز د زده کړې چاپېریال په خاطر له سره تشکیلولو او ښه کولو لپاره د خپلې ځانګړې تګلارې پلي کولو ته دوام ورکوو." "دا یو شی چې هیڅکله به بدلون ونه مومي، هغه د ټولو زده کوونکو بریالیتوب ډاډمن کولو لپاره د خپل فرهنګ او اقلیم په وده کې د مرستې په خاطر زموږ ژمنتیا ده."

تیر کال، د ولسوالۍ ځانګړو تګلارو له اصولو څخه یو په ټول سیستم کې د فراغت ګروپ د نظارت پروټوکول رامنځته کول وو. دا معیاري عملیاتي طرزالعملونه د 2023-24 ښوونیز کال په جریان کې په بشپړ ډول د Horizon په عالي ښوونځیو کې مدغم شوي او د ولسوالۍ په کچه د ساحې د Horizon دفتري کارکوونکو لخوا ځارل شوي. سربیره پردې، ولسوالۍ په ټول DCSD کې ټولو عالي ښوونځیو ته د ملاتړ د زیاتولو لپاره وقف شوي دفتري کارکوونکي بیا تنظیم او وګومارل.

سږکال، د فراغت ګروپ د نظارت پروټوکول د سیستم په کچه د تمې په توګه ټولو عالي ښوونځیو ته پراخ شوی. د راتلونکو فراغت کچې لاسته راوړنو ملاتړ لپاره ډېرې د ځانګړو تګلارو اصول په لاره اچول شوي دي:

- <u>*د بیا وصل کیدو لپاره یو ګام شاته شئ*</u>: د ټولګي د لارښوونې د بیا ښکیلتیا نوښت په ښوونځي کې د زده کړې پرمهال د زده کوونکو ګرځنده تلیفون ته لاسرسی محدودوي.
- <u>*د ګرندي پرمختګ اکاډمي*</u>: د زده کړې له بشپړولو دمخه د ښوونځي پرېښودو مسلې ته د رسیدو برنامې نوښت ترڅو هغه زده کوونکي چې غواړي د عالي لیسې ډیپلوم ترلاسه کړي په زده کړه کې بیا ښکیل کړي.
- <u>*د Chancelight تنظیم*</u>: د منځني ښوونځي د زیات عمر لرونکو زده کوونکو ملاتړ ترڅو عالي ښوونځي ته د دوی لیږد ګړندی کړي.
- <u>له ثانوي څخه وروسته *P.U.S.H. پلان*</u>: په **ټولیزه** توګه د 6-12 ټولګیو کې د زده کوونکو د **چمتو** کولو، **کیفیت** لوړولو، او **ملاتړ** کولو پلان، کله چې دوی عالي ښوونځي ته لیږدول کیږي او فارغ زده کوونکي له ثانوي څخه وروسته د خپلو موخو لاسته راوړلو لپاره چمتو وي.
- <u>د تدریس او زده کړې بنسټیز عناصر ښه کول</u>: زموږ د Horizon په ځینو ښوونځیو کې د ځانګړو اړتیاو لرونکو زده کوونکو د ملاتړ لپاره د سواد زده کړې مهارتونو ته وده ورکوونکې پلیټ فارم شاملول.
- <u>د انګلیسي زده کوونکو لپاره د ژبې تدریسي پلانونه</u>: د انګلیسي ژبې د زده کړې پیژندل شویو زده کوونکو د انګلیسي ژبې د تحصیل مهارتونو ته وده ورکولو لپاره د زده کوونکو ځانګړي پلانونه.

XXX